# اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې الله تعالى يې درېيم وي»؟

د ابو بکر صديق رضى الله عنه څخه روايت دى وايي: ما د مشرکانو پښې زمور د سرونو د پاسه وليدلې، حال دا چې مور په غار کې وو، ما وويل: اې د الله رسوله، که له دوى څخه يو کس خپلو پښو ته لاندې وګوري، نو مور به وويني، هغه وفرمايل: «اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې الله تعالى يې درېيم وي»؟

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

امير المؤمنين ابو بکر صديق رضى الله عنه د هجرت پر مهال وويل: ما د مشرکانو پښو ته وکتل چې زمور د سرونو د پاسه د ثور د غار پر سر ولاړ وو او مور پکې وو، ما وويل: اې د الله رسوله، که يو له دوى خپلو پښو ته لاندې وګوري، نو مور به وويني، هغه وفرمايل: اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې په نصرت، مرسته، ساتنه او لارښوونه کې يې الله تعالى درېيم و؟!

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3447